

د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نېټه : ۳ مى ۲۰۱۳ ميلادى

# د يو ناکم مين کيسه

هو! ستا به په ياد وي او کنه؟

کله چې موږ واړه وو، د خان د کلا شاته د کلی د نورو مشاومانو پشان د لوبې ځای مو سره جوړ کړي وو

هو! ستا به په ياد وي او کنه ؟

هغه ورځې ،هغه وختونه ،هغه شيبې، چې دواړه به په خاوروکي سره لوبيدو او سپيره کيدو چې زه به هروخت ستا په تمه يوه وړه خولی سره او يو د ولی لښته چې دنورو لښتونه لړ غټه وه د غاړه شاته به مي نيوله دواړه لاسونه به مي ورنه تناو کړل

هو! ستا به په ياد وي او کنه ؟

او ځان سره به مي هغه سندره چې هغه وخت او اوس هم زما په ياد نه وه او نه ده خو بيا هم ما زونګ زونګ له خولې ايسته او ورسره به په پوندو ورديدم او ښوريدم به

هو! ستا به په ياد وي او کنه ؟

کله چې د ديوال له شا ،او هغه دتناره د ډوډی کلچه چې ، مور دي درته هروخت پخوله د سندريز غږ سره چې يوه پېڼه به دي مخکي اچوله او بله شاته او د هر قدم سره به ستا ويښته پورته باد الوزول را ځرګنده کيدي به .

هو! ستا به په یاد وي او کنه ؟

ستا په ليدو به زما زړه ته يو دم خوشحالی راتله ،او خوله به مې له خندانه شنه وخته ،ستا په راتګ به یو دم زموږ په مینځ کې جګړه پیل کیده، ستا په هغه سور ګلداره کمیس به ما ملنډې پیل کړې او تا به راپسې منډه کړه او زه به در څینې تښتیدم .

هو! ستا به په یاد او کنه ؟

تم مانه کمه نه وي ته به هم زما په هغه شین ښښنی واکست خندیدي او ملنډې به دي وهلي .

هو!

د څواني په هغه شیبو کې چې ته نوره هم ښایسته شوي وي ، هغه زلفي ، هغه ویښته چې ،د ملانه هم ښکته شوي وي ،هغه د هوسی د سترګو پشان سترګي، چې په کجلو به دي لکی ورکوله ، هغه د لعلو پشان سرې شونډې ، هغه د تندی اود زنې په سر شین خال ، رښتیا ته ډیره مسته شوي وي

او زه به دتل پشان ستا په تمه يو سيورى لاندي ولاړ به وم، رښتيا په ما کې هم بدلون راغلی وو د ولی لښته مي په شپیلی بدله شوي وه .

هو! ستا به په یاد وي او کنه ؟

چې هره ورځ به مې سترګې د خان کلاته نیغي ختلي وي، او تا به منګی په اوږه باندې ایښې وه او ورسره د ټکری یوه څنده به دي په خوله کې نیوله را پیدا کیدې .

هو!

ستا په لیدوبه زه چې په تورو خاورو کې په سینه به ویده وم په منډه راپاڅیدم ستا شاته به روان شوم ستا جګړه په مسکا بده شوي وه څو خلې به دي شاته را کتل و تلې به تلې به .

هو! ستا به په یاد وي او کنه ؟

په ګدر کې، په چینه کې ، اویا د سیتد تر غاړه تا به په لپه په منګی کې اوبه اچولې او ما به دبلبلو د سندریز غږ سره شپیلی وهله او ګوتې به مې د سا سره مل شوي .

هو! ستا به په یاد وي او کنه ؟

خو زما نه هیریږي ،هغه ورځ کوڅې ته په منډه راننوتم چې د کلا شاتو مو ډیر څوانان ولاړ دي دا خو لا څه کې چې له کور نه موسپین ږیرې هم پرلپسې راووتل ، خان ، پلار ، کاکا او ورسته کې ستا پلار

ما وویل خیر کې خدایه بیا په زړه کې مې وویل څه مور به يې مره وي خو ګورم چې يو شین

دسمال کې په ګومان مې چې په کې پتاسي او ګوړې وي یو څوښځې چې په لاس نیولي و راووتې او په ګداي سمې شوي .

هو! ستا به یاد وي او کنه ؟

ځان سره مي وويل څه خور به يې واده کيږي تر يو حده لاړم يودم ودريدم په ياد مي شول سا مي بنده شوه وينه مي وچه شوه زړه مي ونيول شو هکوپك په ځاي کي په ولاړه ميخ شوم يا الله دا خو نه خور لري نه ورور خيردا ښځو چي داسي په ګدا شوي نو دلته يې څه کول ؟

هو! ستا به په ياد وي او کنه ؟

ډيرې مې هلې ځلې کړي خو چا مې خبروته پام هم ونه که او ستا ډولی پورته شوه د څلور هلکانو په اوږه کره شرمه چا زه هلته پري هم نښودلم .

هو!

اوس چي سر سپين ږيره سپينه بې حاله د کټ په سر يې اچولی يم او رانه خلك تاو راتاويږي کله مي سترګې پټيږي او ته مي په ياديږي کله مي کلمه خوليته راځي کله مي له سترګو اوښکي تويږي .

ورو ورو مي سا پښو پلو ځي

ځي

ځي

هو!

تا به څوك خبره هم کي ، او کنه ؟

*****

مجيب الرحمن « خطيبي »

کابل - افغانستان

www.said-afghani.org- بازگشت به صفحه اصلی